مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې ۱۵مه | د ۲۰۱۹ د فبروري ځلورمه | دویم کال| ۳۲۹مه گڼه

گډونکوونکی پلاوی:

# د مسکو غونډه د بین الافغاني مذاکراتو د پیل لپاره لومړنی گام دی



۳

د مسکو له غونډې ولې وېره وشي؟

۲ مخ

د مالاکنډ جنگ

۲ مخ

گرجستان او په اړه یې په زړه پورې معلومات

۳ مخ

## ټرمپ: طالبان له جگړې ستړي شوي دي

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي، دې ته چمتو دی چې په افغانستان کې محدود شمېر امریکایي پوځیان وساتي. نوموړي له سي بي اېس ټلوېزیون سره په مرکه کې ویلي، فکر کوي چې د طالبانو په گډون په افغان جگړه کې ښکېلې ټولې خواوې له جگړې ستړې شوې دي.

ټرمپ ویلي، په افغانستان کې به د امریکا استخباراتي شتون دوام ولري، خو متحده ایالتونه باید نور هر کال میلیاردونه ډالر په نړۍ کې پر پوځي ماموریت ونه لگوي.

د نوموړي په خبره، اوس د دې وخت را رسېدلی چې له دې «ناپایه جگړې» څخه امریکایي پوځیان را وایستل شي او خپل هېواد ته ستانه شي.

ولسمشر ټرمپ د دې پوښتنې په ځواب کې چې ایا پر طالبانو اعتبار کېدلی شي؟ ویلي چې فکر کوي د طالبانو په گډون د افغانستان په جگړه کې ټولې ښکېلې خواوې ستړې شوې دي او د جگړې ختمېدل غواړي.

ولسمشر ټرمپ دا خبره په داسې حال کې کوي چې د زلمي خلیلزاد په مشرۍ د امریکایي ډیپلوماټانو یو پلاوی له تېرو څو میاشتو راهیسې له وسله والو طالبانو سره پر مخامخ خبرو بوخت دی. په قطر کې د دواړو لوریو تر وروستۍ ناستې وروسته، داسې رپوټونه خپاره شول چې امریکا له افغانستانه د خپلو پوځیانو پر ایستلو سلا شوې، خو په بدل کې یې له طالبانو تضمین غوښتی چې د افغانستان په خاوره کې به د امریکا مخالفو وسله والو ډلو ته ځای نه ورکوي او له القاعدې او نورو ترهگرو ډلو سره به هم اړیکې ختموي.

۲ مخ

## که طالبان له خپل دریځه وانه وړي، د سولې په خبرو کې پرمختگ ناشونی دی



۲ مخ

۴ مخ


## هېواد

### فیجي

د دغه هېواد ۷۵ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او ۱۱ سلنه ناخالص کورني تولیدات یې هم له همدغه سکټور څخه لاسته ورځي.



## د روان کال تر پایه به کاسازر پروژه گټې اخیستنې ته وسپارل شي



کاسازر په سیمه کې د انرژۍ د لېږد تر ټولو ستره پروژه ده، چې د تاجکستان او قرغزستان برېښنا پاکستان او افغانستان ته لېږدوي. تر دې وړاندې ټاکل شوې وه چې دغه پروژه د ۲۰۱۸ ز کال تر پایه گټې اخیستنې ته وسپارل شي، خو اوس ویل کېږي چې د روان زېږدیز کال تر پایه به گټې اخیستنې ته سپارل کېږي. د برېښنا شرکت رییس امان‌الله غالب ویلي، په تاجکستان او پاکستان کې ځینې ستونزې د دې سبب شوې چې دغه پروژه پوره اته میاشتې وځنډېږي او د ۲۰۱۸ ز کال پر ځای د ۲۰۱۹ ز کال په پای کې بشپړه شي. هغه ویلي چې د دې پروژې په بشپړېدو سره به افغان حکومت میلیونونه ډالره گټه وکړي. کاسازر د تاجکستان او قرغزستان ۱۳۰۰ میگاواټه برېښنا افغانستان او پاکستان ته صادره کړي چې افغانستان به هر کال ۵۰ میلیونه ډالر له دې درکه د ترانزیټ حق اخلي.

## صیاد: وزارت خارجه به مکتوب‌های ما جواب واضح نداده‌است



همزمان با آغاز روند بررسی علنی اسناد کاندیدان احتمالی ریاست جمهوری، کمیسیون مستقل انتخابات از عدم همکاری برخی از نهادهای حکومتی به ویژه وزارت خارجه سخن می‌زند.

گلاجان عبدالبدیع صیاد رئیس این کمیسیون می گوید، آنان با فرستادن دو مکتوب از وزارت خارجه خواهان معلومات در باره تابعیت دوم کاندیدان احتمالی و معاونین آنان شده‌اند، اما این وزارت تا حالا برای‌شان در این باره وضاحت کامل نداده‌است.

آقای صیاد دیروز در آغاز پروسه علنی بررسی اسناد کاندیدان احتمالی ریاست جمهوری در این مورد گفت: «در باره دو تابعیت داشتن کاندیدان و یا معاونین‌شان به وزارت خارجه دو مکتوب رسمی ارسال شده، اما مقامات این وزارت در جواب مکتوب‌های ما تا امروز چیزی واضح روان نکرده‌است که کدام یکی از این اشخاص دو تابعیت دارد.»

طبق قانون انتخابات افغانستان روند بررسی اسناد کاندیدان احتمالی ریاست جمهوری بگونه علنی از سوی کمیسیون مستقل انتخابات صورت می‌گیرد و پس از آن، کمیسیون شکایات انتخاباتی به شکایت‌های موجود در این زمینه رسیدگی می‌نماید. در این حال، عبدالعزیز ابراهیمی معاون سخنگوی این کمیسیون به رادیو آزادی گفته است، که ممکن تعدادی از این کاندیدان واجد شرایط شناخته نشوند و به فهرست ابتدایی راه نیابند.

کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان می‌گوید که ۱۸ تن خود را برای انتخابات آینده ریاست جمهوری این کشور کاندید نموده‌اند و اسناد ارائه شده آنان به شمول موضوع تابعیت دوم بگونه جدی بررسی خواهد شد.




## دریځ

### د مسکو له غونډې ولې وېره وشي؟

د افغان سولې په تړاو سه شنبې او چهارشنبې په مسکو کې غونډه جوړېږي. دا غونډه چې ویل شوي، په روسیه کې د مېشتو افغانانو په کوربه توب جوړېږي، له افغانستان څخه ۳۸ سیاستوال ور بلل شوي چې د سیاسي ګوندونو استازي هم پکې شامل دي. افغان حکومت دا غونډه غیر ضروري ګڼلې ده او د ولسمشر یوه سلاکار بیا د غونډې د ګډونوالو په اړه تونديې او تېزې خبرې هم کړې دي. د ولسمشر سلاکار د غونډې ګډونوال تورن کړي چې ګواکې پر نظام او ملي ګټو معامله کوي. دې غونډې ته وربلل شوو کسانو بیا یوه ګډه اعلامیه خپره کړې ده او پکې ویل شوي چې دا غونډه د بین الافغاني مذاکراتو د پیل لپاره غوره فرصت دی. په اعلامیه کې ویل شوي چې دوی به ټولو ملي ارزښتونو ته په پام سره په یاده غونډه کې ګډون وکړي.

د مسکو په غونډه کې له شک پرته چې د روسیې حکومت ښکېل دی او په غیر مستقیم ډول د دې غونډې ملاتړ کوي. روسانو تر دې وړاندې هم طالبان مسکو ته وربللي وو او هلته یې په یوه غونډه کې دوی ته د دریځ د بیانولو چانس ورکړی و. هغې غونډې ته د نورو هېوادونو استازي ورغلي وو. دا بیا لومړنۍ غونډه ده چې افغان سیاستوال په دومره پراخه کچه له طالبانو سره مخ کېږي.

حکومت به له دوو اړخونو د دې غونډې په اړه اندېښمن وي. لومړی دا چې غونډه په مسکو کې جوړېږي او امریکا نه غواړي چې د افغانستان د سولې په چاره کې مسکو مخکښ شي. د امریکا د دریځ سیوری پر ملي یووالي حکومت پروت دی او له همدې امله دا غونډه غیر ضروري ګڼي او مخالفت یې کوي. دویم دا چې په دې غونډه کې حکومت ضد سیاستوال مطرح کېږي، طالبان ورسره خبرې کوي، خو حکومت پکې نشته. دا په کور دننه د حکومتي مشرانو لپاره هم یوه ضربه ده، نو ځکه دوی ناارامه دي او د دې غونډې مخالفت کوي.

دا غونډه به په ځینو برخو کې مثبتو پرمختګونو ته لاره هواري کړي، خو لویه لاسته راوړنه به ونه لري. د حکومت هغه اندېښنې هم بې ځایه دي چې د دې غونډې په تړاو یې لري. په دې غونډه کې کومه پرېکړه نه کېږي او نه هم داسې کوم ګام اخیستل کېږي چې وروسته به د پرېکړې سبب شي. دلته یوازې نظریات تبادله کېږي او د باور فضا رامنځ ته کېږي. حکومت باید اندېښمن نه وي، ځکه د دې غونډې ګډونوالو په اعلامیه کې په ښکاره ټکو ویلي: «په دې غونډه کې د دوی د ګډون موخې د افغانستان د اسلامي جمهوري نظام ساتنه او تقویت، د پیاوړي ولسواک مرکزي حکومت ساتنه، له ملي او اسلامي ارزښتونو ساتنه، په سیمه ییزو او نړیوالو جګړو کې د افغانستان بې طرفي، د ملي یووالي پیاوړتیا، د ټولنیز عدالت تامین، د سولې برخه کې د خلیلزاد له هڅو ملاتړ، د سولې خبرو له پیل سره سم اوربند او داسې نور موضوعات دي.»

کله چې هر څه دومره روښانه وي، نو بیا د ملي یووالي حکومت باید اندېښنه ونه کړي، بلکې له دې غونډې استفاده کولی شي. په نړۍ کې د سولې د بریا لپاره ډېر وخت د حکومت پر ځای نور سیاستوال ښکېل وي او دې ته "ټرک ټو ډیپلوماسي" وایي. دا چاره د باور په رامنځ ته کولو، د مهمو پیغامونو په تبادله او د کرکې او واټن په لرې کولو کې مرسته کوي. له همدې امله حکومت باید د دې غونډې ملاتړ وکړي او په مخالفت سره یې د سولې او د سوله ییزو هڅو پر وړاندې خنډ نه شي.

# د مالاکنډ جنګ

لیکنه: صفیه حلیم

دا جنګ د انګرېز لښکر او د پښتنو ګډ لښکر ترمنځ په ۱۸۹۷ ز کال کې د جولای له ۲۷مې د اګسټ تر ۳۰مې وشو.

له نوښار نه د مالاکنډ درې او کیمپ ترمنځ ۴۷ میله فاصله ده. له نوښار سره نږدې له کابل سیند ور پورې، په ۱۵ میله کې مردان د انګرېز چاوڼۍ لرله. له جلاله ګودر وروسته درګۍ په غرونو کې د مالاکنډ دره لکه یوه لویه کاسې پرته ده. په ۱۸۹۵ ز کال کې د چترال د جنګ په وخت د دې کاسې یو سر کې انګرېز خپله کلا جوړه کړې وه. د دوی پلان و چې وروسته به کلا پرېږدي، خو د پامیر په غرونو کې د روسانو حرکت د انګرېز لپاره د خطر زنګ شو او دوی "مالاکنډ ایجنسي" جوړه کړه. په ۱۸۹۶ ز کال کې د هډې ملا (نجم الدین اخونزاده) په مشرۍ یو لښکر له سوات نه د چترال لاره بنده کړه، نو انګرېزانو د مالاکنډ چاوڼۍ ته نور پوځ هم راوستلو. د سیمې ځینو قامونو انګرېز سره لاسونه یو کړي وو. راڼیزو به له حکومت نه ۳۰ زره روپۍ د کال (سبسډي) اخیستل. د دې په بدل کې ۲۰۰ وسله والو پښتنو به د انګرېز افسرانو ساتنه کوله. په دیر کې د حکومت ۷۳ میله سړک د ساتلو لپاره، دیر خان ٦۰ زره روپۍ اخیستې. هغه خپل ۴۰۰ وسله وال کسان انګرېز خدمت ته ټاکلي وو.

د چکدرې د ښار برج (پیکټ) کې د لندن ډیلي ټیلیګراف یو خبریال ونسټن چرچل په دوربین دا لښکر ښارلو. دا لومړی ځل و چې انګرېزانو له دغې سیمې په مخابره (ریډیو) د جنګ د میدان حال یو بل ته ورکوو. پښتنو خپل لښکر په دوو برخو ووېشلو. یوه چکدره کې پاتې شوه او بله پر مالاکنډ د حملې لپاره لاړه. چرچل په خپلو یادښتونو کې وایي چې قبایلو به له خپلو ځوانانو وسله واخیسته او هغوی به یې منع کول چې پر انګرېز حمله مه کوئ. دوی ډېرې ړندې عقیدې لرلې او له انګرېز نه وېرېدل.

په جولای کې د سرتور ملا له خپلو مریدانو سره مالاکنډ ته د یو جهاد لپاره روان شو. د سوات او بونیر خلک هم له جنډو سره مالاکنډ ته ورمات وو. د جولای په ۲٦مه ماسپښین د مالاکنډ چاوڼۍ افسران د "خار" پولو لوبې میدان ته ورغلل او د نورو ورځو په شان یې له لوبې خوند اخیستو. ځایي پښتانه هم هلته وو. له لوبې وروسته کله چې افسران خپل کیمپ ته روانیدل، له نندارچیانو څو کسان ورته ورغلل او وې ویل چې پښې وباسئ، ځکه یو لښکر به ورباندې حمله وکړي.

په هغه شپه د غازیانو شمېر ۱۰۰۰ شاوخوا و. د سوات عبدالودود هم له خپلو خپلوانو سره لاړ او په جنګي صفونو کې تر ټولو شا ته ودرېد. ماښام د مالاکنډ پر جنوبي چاوڼۍ غازیانو ناڅاپه د ټوپکو ډزې پیل کړې. انګرېز سمدلاسه مردان چاوڼۍ ته په ټیلګرام کې خبر ورکړ. له کیمپ نه ۴ میله لرې په امان دره کې لفټنټ کرنل میکرای د دوو توپو او د بنګال له یو سکواډرن سره پروت و. هلته یوه ډله د میجر ټېلر په مشرۍ روانه شوه چې د مقابل څواک او پوزیشن جاج واخلي. بیا دی په خپله هم له ۲۰ کسانو سره لاړ او ډزې یې پیل کړې. میکرای په څټ زخمي او میجر ټیلر ووژل شو. له مردان نه د ګایډ پلټن د میجربارف په مشرۍ د شپې ۲ بجې کومک ته ورسېد. چرچل لیکي چې دا بې تعلیمه قبایل په دې خبر نه وو چې په ټیلګرام کې یو خبر د برېټانوي سلطنت په لرې پرتو سیمو کې زلزله راوستی شي. دوی یوازې د مالاکنډ او چکدرې کلاګانې لیدلې وې.

د جولای په ۲۷مه سهار ۴ بجې غازیانو ډزې بندې کړې چې خپل مړي او زخمیان له میدانه وباسي. د مالاکنډ شمال چاوڼۍ ته امر وشو چې هر څه جنوبي برخې ته نقل کړي او هلته دوی کلا بند شول. تر هغې چې ۱۲ زره غازیان په مالاکنډ کې او ۸ زره په چکدرې کې راټول وو. په سیمه کې د انګرېز په دریو نورو چاوڼیو هم حملې وشوې چې له مالاکنډ سره مرسته ونه کړي. د مالاکنډ بازار یو وار د انګرېز پوځ په لاس کې شو، خو بیا ترې ووتل. په دغه ورځ د انګرېز د چاوڼۍ درې انګرېز افسران او ۲۲ هندي سپاهیان ووژل شول او ځینې نور ټپیان شول.

د جولای په ۲۸مه سهار د پښتنو تازه دمو غازیانو له راتګ سره اته بجې پر چاوڼۍ لویه حمله وشوه. څو ساعته جنګ کې ۱۲ هندي پوځیان ووژل شول. دوی د غرونو په سر ډزې جاري وساتلې او د سختې ګرمۍ له کبله یې د شپې بلې حملې لپاره تیاري وکړه. انګرېزانو په دغه ورځ بازار وسوځولو او هغه ټولې ونې یې پرېکړې، چې د دوی د حملې مخه یې نیوله او یا یې تر شا پښتانه د ډزو لپاره پټېدل. د مالاکنډ د دفاع مشري په پېښور کې کرنل بینډن بلډ ته ورکړل شوې وه. د جولای په ۲۹مه له نوښار چاوڼۍ نه د انګرېز کومک د مالاکنډ سر ته ورسېد. پر لاره له دغه فوځ نه شاوخوا ۲۰ پوځیان د ګرمۍ له امله او دوه نور د غازیانو په ډزو ووژل شول.

د جولای په ۳۰مه سهار ۲ بجې پښتنو تازه حمله پیل کړه. په دغه جنګ کې یو انګرېز افسر "کوسټېلو" او سرتورفقیر دواړه ټپیان شول. له کومکي پوځ نه هم یو کس ووژل شو او تر شپې دواړو خواو ډزې کولې. د جولای ۳۱مه سهار وروسته پاتې کومکي لښکر د "کرنل ریډ" په مشرۍ، مالاکنډ جنوب ته ورننوت. له ډوګره او سیک پوځیانو سره درې لکه کارتوس په ۲۵۰ کچرو(یابو) بار وو. هاخوا له پښتنو سره ګولۍ او بارود په ختمېدو وو، نو ورو ورو له مالاکنډ نه ووتل او پر چکدره یې زور راوړ. د چکدرې په وړه کلا کې ۲۰۰ پوځ مېشت او د مرستې لپاره یې غږ کړی و. "بلډ" په دغه ورځ نوښار ته ورسېد او له هغه ځای نه یې د ۲۴ توپو، ٦۸۰۰ ټوپکو، ۷۰۰ چړو چې پر سلګونو کچرو بار وو، روان شو.

د اګسټ په لومړۍ "بلډ" د مالاکنډ جنوب ته له رسېدو سره، مایکل جان د چکدرې د خلاصون مشر وټاکلو. په دغه لښکر کې ۱۰۰۰ پلي، ۲ سکواډرن د بنګال، ۲ سکواډرن سپاره، ۵۰ سیپرډ، دوه توپچي او یو ګرځنده روغتون شامل و. که څه هم د اګسټ په لومړۍ د شپې لخوا پښتنو پر دوی حملې کولې، خو د انګرېز لښکر ارام وکړ.

په بله ورځ دغه تازه دمي پوځ د مالاکنډ شمالي کیمپ د بېرته نیولو تابیا وکړه. د سوارو یوه دسته د کیپټن بالډوین په مشرۍ د سهار په خړه کې پر سړک روانه شوه. پر لاره پرې ناڅاپه غازیانو حمله وکړه چې درې افسران ټپي او ۱٦ سپاهیان یې مړه یا ژوبل کړل. انګرېز پوځ د مالاکنډ له جنوب نه د پښتنو فشار کمولو لپاره په شمال کې خپل کیمپ جوړ کړ. د غازیانو لښکر ووېشل شو. د اګسټ په دویمه دغه جنګ کې د انګرېز ۳۳ کسان ووژل شول. هاخوا د پښتنو ځاني تاوان ۲۰۰۰ شاوخوا اټکل کېږي.

د مالاکنډ سیاسي استازي "میجرډین" په هلو ځلو تود جنګ سوړ شو. چرچل له ده نه سخته کرکه کوله او لیکي چې مونږ د یو سخت جنګ لپاره ځان تیار کړ چې "میجر ډین" پکې مداخله وکړه. داسې ښکاري چې دا ټول وحشي مشران د ده ملګري یا خپلوان وي. د جنګ په منځ کې هم ده له هغو مشرانو سره لکه له ملګرو سره داسې خبرې کولې.

هاخوا انګرېز ته پتمن پښتانه چې په سوات کې چترال ته د رسېد لاره یې ساتله، په خطر کې شول. د اګسټ په ۵مه د دوی پر کیمپ ډزې وشوې. د اګسټ تر ۱۴مې مایکل جان د پښتنو لښکر پر دوو برخو وېشلی وساتو. ټوله ورځ جنګ کېدو چې د انګرېز دوه افسران او ۱۱ نور پوځیان پکې ووژل شول. انګرېزان سخت وارخطا وو. چرچل د جنګ خبرونه لندن ته ورکول او هلته حکومت د خپل پوځ له کارنامو خبرېدو. د مالاکنډ د جنګ تر پایه د انګرېز درې لوړ رتبه افسران مړه او ۱۰ نور ژوبل شول. بلخوا بیا ۷ لوړ رتبه هندي افسران مړه او ۱۹۳ پوځیان ووژل شول. د زخمیانو شمېر له دوی ډېر و. د انګرېز لپاره جنګېدونکو عسکرو له تاوانه علاوه، د ۱۳۵ اسونو او کچرو وژل زیات مهم وو. د انګرېز په جنګي راپورونو کې وایي چې جنګېدونکي پښتانه پلي وو، له نیمایي وو سره یې جزېل یا لویه تومانچه وه، د ګوتو په شمېر کسانو یې انګرېزي ټوپک لرل. له دوی سره هېڅ توپ او مشین نه و او ډېرو پر تورو، چړو یا تیږو جنګ کاوه. هر قام خپل بیرغ لرلو چې هغه به د دوی د راټولېدو مرکز و. د اړتیا په وخت به یې ډول، نعاره او صرنا غږول. د دوی تر ټولو خطرناک جنګي تکتیک دا و چې د سترګو په رپ کې به راټول، په کنډو کپرو او لوړو غرونو به په منډه وختل، او ناڅاپه به یې پر دښمن حمله وکړه.

هغه کال د ملکې وکټوریا د واک ٦۰ کاله په پوره کېدو وو چې د مالاکنډ فاتحانو ته یې هم بادرۍ ورکړې. هو دا جنګ په عمل کې نورو ځایونو ته خپور شو. د پښتنو یو لښکر د سرتور ملا په مشرۍ د شنکر پر کلا (شبقدر) حمله وکړه او هغه یې چور کړه. تیراه، خیبر او وزیرستان کې هم ناارامي خپره شوه. ۵۰ کاله وروسته انګرېز له سیمې ووت، خو د دوی یادګاري څلي اوس د پاکستان پوځ ورته ساتي. یو پښتون هم په مالاکنډ کې د "چرچل پیکټ" نوم نه شي بدلولی.

## رابطة العالم موسسې له زرګونو اړو کورنیو سره مرستې کړې دي

د رابطةالعالم الاسلامي موسسې اړوند د انکشاف او پرمختګ لپاره نړیوالې خیریه ټولنې (IORWD) په پروان او کابل کې پر ۱۷۰۵ بې ځایه شوو او اړو کورنیو خوراکي توکي وېشلي، چې هرې کورنۍ ته یې (لس کیلو اوړه، پنځه کیلو وریجې، درې کیلو بوره، درې کیلو لوبیا او درې لېتره غوړي) ورکړي دي.

دغه خیریه ټولنه د نورو خیریه کارونو او پروژو ترڅنګ، هر کال په ژمي کې د (ببېرنیو مرستو) په نوم پر زرګونو اړو کورنیو خوراکي توکي وېشي، چې سږ کال د دې ټولنې د سرمنشي ډاکتر محمدعبدالکریم العیسي او ډاکتر عبدالعزیز احمد سرحان په سپارښتنه، افغانستان په هغو هېوادونو کې شامل شوی چې د دغه ډول مرستو وېش د ژمي په موسم کې پکې ترسره شي.



د دې ټولنې اړوند د افغانستان دفتر او د مرکزي دفتر د استازي ماجد الغامدي له لوري، د روان ۱۴۱۴۰ هـ ق کال مرستې په اړو کورنیو وېشل شوې دي.

د خوراکي توکو د وېش دغه بهیر په کابل کې د نوموړې ټولنې د کابل دفتر له لوري له ځینو دولتي ادارو، په ځانګړي ډول د کډوالو چارو وزارت او د پروان ولایت له مقام سره په همغږۍ او همکارۍ تر سره شوی دی.

د پروان والي ښاغلي فضل‌الدین عیار، د جبل‌السراج ولسوال ښاغلي سیف‌الدین بیدار، د باګرام ولسوال ښاغلي عبدالشکور او د کډوالو چارو وزارت سلاکار حاجي حیات‌الله سباوون هم د مرستو د وېش په پیل کې ګډون درلود او په خپلو لاسونو یې بېوزله خلکو ته دا مرستې ورکړې دي. دوی ټولو له دې ټولنې مننه کړې او ترڅنګ یې ترې غوښتي چې په مختلفو برخو کې له راستنېدونکو، بې ځایه شوو او اړو کورنیو سره خپلې مرستې جاري وساتي.

د افغانستان لپاره د دغه دفتر او ټولنې تنظیمونکي ماجدسعید حمود الغامدي ویلي: «دغه ټولنه په نظر کې لري چې په نږدې راتلونکي کې په یوشمېر نورو بې ځایه شوو کورنیو چې اوسمهال د هېواد په بېلابېلو ځایونو کې تر خېمو لاندې ژوند کوي، کمپلې او خوراکي توکي وویشي او په نورو پرمختیایي برخو کې هم خپل فعالیتونه زیات کړي».

په پام کې ده چې دغه ټولنه به په نږدې راتلونکي کې د زیات شمېر ښاګانو کیندلو او جماعتونو جوړولو پروګرامونه هم پیل کړي.

# ګډونکوونکي پلاوی: د مسکو غونډه د بین الافغاني مذاکراتو د پیل لپاره لومړنی ګام دی



وروسته له دې چې په روانه اونۍ کې په مسکو کې د جوړېدونکې غونډې په اړه غبرګونونه وپارېدل، دغه پلاوي یوه ګډه اعلامیه خپره کړې ده. په اعلامیه کې راغلي چې دوی د مشهورو کسانو، د ولسي جرګې له استازو، قومي مشرانو، سیاسي احزابو او سیاسي جریانونو یو ګډ پلاوی دی او د مسکو په غونډه کې به ګډون کوي.

په اعلامیه کې راغلي چې دغه غونډه د بین الافغاني مذاکراتو د پیل لپاره لومړی ګام دی او دوی به د هېواد د ژغورلو لپاره د مسکو په غونډه کې ګډون کوي. سرچینه کاږي چې دغه غونډه په روسیه کې د مېشتو افغانانو د ټولنې له لوري جوړه شوې ده چې له همدې امله د افغانستان ټولو سیاسي څېرو پکې ګډون ته زړه ښه کړی دی. په اعلامیه کې راغلي: «په هېواد کې روان وضعیت او هغه حرکتونو ته په کتو چې د سولې په برخه کې رامنځ ته شوي، د مسکو غونډه به لومړنی ګام وي چې د بین الافغاني مذاکراتو لپاره اخیستل کېږي. په مسکو کې د مېشتو افغانانو دغه کار د قدر وړ دی او موږ یې هر کلی کوو. دا چې افغان ملت تر بل هر وخت سولې ته لېواله دی او د سولې تنده لري، نو زموږ هیئت به هم په دې حساسو شرایطو کې خپل تاریخي مسوولیت ادا کړي.»

د ګوندونو او سیاسي جریانونو استازو په دغه ګډه اعلامیه کې ویلي، افغان حکومت د دې پر ځای چې د دوی هڅې زیانمنې کړي، باید ملاتړ یې وکړي او دغه مهمې غونډې ته دې خپل یو باصلاحیته پلاوی ولېږي. په اعلامیه کې راغلي چې دوی د بین الافغاني مذاکراتو لپاره زمینه برابروي او په دې توګه غواړي، څو په دغو حساسو شرایطو کې په سیمه کې له روانو ناندریو افغانستان وژغوري. په اعلامیه کې راغلي: «په دغه غونډه کې زموږ موخه دا ده، چې زموږ ملي ارزښتونه وساتل شي، سوله د افغانانو ترمنځ د خبرو له لارې تامین شي، ملي او امنیتي بنسټونه تقویه شي، د افغانستان د اسلامي جمهوریت اوسنی نظام وساتل شي او د پیاوړتیا لپاره یې ژمنې وشي او همدا راز د افغان سولې لپاره سیمه ییزه اجماع پیاوړې شي.»

ګډونکوونکي پلاوي د خپلو خبرو په ادامه ویلي، چې په مسکو کې رامنځ ته شوی فرصت د افغان سولې لپاره خورا مهم دی او هیله لري چې د دغه بهیر په رامنځ ته کېدو او دوام سره د افغانستان ستونزه د تل لپاره حل شي.

بل پلو افغان حکومت بیا وار د مخه په دغه غونډه کې د نه ګډون پرېکړه کړې ده. د هېواد د بهرنیو چارو وزارت د مسکو د غونډې په اړه په خپل غبرګون کې ویلي وو، چې په دغه غونډه کې به د افغان حکومت کوم پلاوی ګډون نه کوي.

د سولې عالي شورا بیا وایي، د هر هغه ګام هر کلی کوي چې له مخې یې په افغانستان کې سوله او ثبات ټېنګېدلی شي. د سولې عالي شورا ویاند سید احسان طاهري وایي، د افغانستان ستونزه د خبرو له لارې د حل وړ ده او د سولې عالي شورا د ټولو هغو هڅو ملاتړ کوي چې په پایله کې یې په افغانستان کې خونړۍ جګړه پای ته رسېږي او دایمي سوله راځي.

د سولې په اړه په وروستیو پیل شوو هڅو کې ولسمشر غني تېره ورځ په خپلو تازه څرګندونو کې ویلي وو، چې دی یوازې د با عزته او دایمي سولې هوکړه لاسلیکوي. د نوموړي په خبره، هېڅ وخت به د سولې هغه هوکړه لاسلیک نه کړي چې پکې د افغانانو او افغان حکومت حیثت خوندي نه وي او د نورو په خوښه راغلې وي.

# ډابنز: که طالبان له خپل دریځه وانه وړي، د سولې په خبرو کې پرمختګ ناشونی دی



د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا پخواني استازي جیمز ډابنز ویلي، که طالبان له خپل اوسني دریځه وانه وړي، د سولې په روانو خبرو کې پرمختګ ناشونی دی.

نوموړي له ازادي راډیو سره په یوه ځانګړې مرکه کې ویلي، زلمی خلیلزاد او امریکا په افغانستان کې د تلپاتې سولې د ټینګښت لپاره کار کوي او هڅه کوي چې طالبان له افغان حکومت سره د خبرو مېز ته کېني.

نوموړي دغه راز ویلي: «زما په اند دا دوه دلیله لري، یو دا چې سولې ته د رسېدو لپاره مصالحې ته اړتیا ده چې دا مسئله بحث پاروونکې ده او همدارنګه په دې برخه کې د قاطعیت نشتوالی دی. بله خبره دا چې که طالبان په خپل اوسني دریځ ولاړ وي، فکر نه کوم چې د سولې په خبرو کې کوم پرمختګ وشي.»

هغه ویلي، امریکا باید تر هغې پورې له افغانستان سره خپلو نظامي، سیاسي او اقتصادي همکاریو ته دوام ورکړي چې په دغه هېواد کې سوله ټینګه او د سولې د هوکړې ټول موارد عملي شي.

دا په داسې حال کې ده چې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد چې په دې ورستیو کې یې څو وارې له طالب پلاوي سره لیدنې کتنې درلودې، ویلي چې په دغه هېواد کې سولې ته تللې لاره داخلي، سیمه ییزې او نړیوالې پېچلتیاوې لري.

خلیلزاد د سولې په بین الافغاني خبرو ټینګار کړی، خو ویلي یې دي چې سولې ته د رسېدو په برخه کې لا هم په افغانستان کې یو واحد نظر او اجماع نشته. نوموړي د طالبانو له خولې دا هم ویلي چې هغوی حاضر نه دي چې له افغان حکومت سره خبرې وکړي، ځکه د ده په خبره، طالبان په دې نظر دي چې افغان حکومت مشروعیت نه لري.

خو افغان ولسمشر محمد اشرف غني بیا ویلي چې طالبان مشروعیت نه لري، د مشروعیت سرچینه د ملت ازاده اراده ده او دی ملت انتخاب کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکایي پلاوي او طالبانو ترمنځ وروستیو خبرو د قطر په پلازمېنه دوحه کې شپږ ورځې دوام وکړ او تمه ده چې شاوخوا درې اونۍ وروسته د شپږم ځل لپاره دواړه لوري بیا په خپلو کې خبرې وکړي.

# د ۱۱ ورځو په تېرېدو لا هم د شپږو ترکي استادانو برخلیک نه دی معلوم شوی



په مزارشریف کې پر افغان- ترک ښوونځیو د پولیسو له برید یوولس ورځې وروسته، لا هم د نیول شویو شپږو ترکي استادانو برخلیک معلوم نه دی.

د بلخ پولیسو یوولس ورځې وړاندې د مزارشریف د افغان- ترک د نجونو او هلکانو پر ښوونځیو برید وکړ چې د زده کوونکو، ښوونکو او ملازمینو په ګډون یې کابو سل تنه ونیول. پولیسو او څارنوالانو له ۱۲ ساعته څېړنو وروسته له شپږو ترکي استادانو پرته نور ټول نیول شوي کسان بېرته خوشې کړل.

سرحات، جمال، صالح، چنګېز، اسماعیل او مصطفی الیار په بلخ کې د افغان- ترک ښوونځیو شپږ ترکي ښوونکي دي، چې د پولیسو له خوا له نیول کېدو وروسته بندیان شوي دي. د دغو ترکي استادانو همکاران د هغوی د برخلیک د نه معلومېدو او زنداني کېدو په اړه اندېښنه څرګندوي.

د مزارشریف د افغان- ترک ښوونځي یو ښوونکي شکرالله صمدي په دې تړاو ویلي: «زموږ ترکي استادان شپږ تنه دي چې لا هم د امنیتي قوماندانۍ سره په بند کې دي او په اړه یې هېڅ دلیل هم نه وایي چې ولې؟ له شپږو کسانو څخه دوه تنه یې مجرد او نور ټول کورنۍ او ماشومان لري چې تر دې دمه یې د کورنیو غړو ته کومه ستونزه نه ده متوجه شوې».

په همدې حال کې د بلخ پولیسو ویلي چې له ۷۲ ساعته څېړنو او زنداني کولو وروسته د یادو ترکي وګړو د برخلیک او زنداني پاتې کېدو په اړه معلومات نه لري.

د بلخ د پولیسو ویاند عادل شاه عادل په دې اړه ویلي: «پولیس نه شي کولای چې له ۷۲ ساعتونو وروسته یو کس له ځان سره په قید کې وساتي، دوی مربوطه برخو ته تسلیمېږي، که یې دوسیه جنایي وي، څارنوالۍ ته سپارل کېږي».

خو د بلخ د والي ویاند منیر فرهاد ویلي چې دغه ترکي استادان د افغانستان د حکومت او ترکیې ترمنځ د یوه هوکړه لیک پر اساس د مرکزي اداري په غوښتنه، د بلخ پولیسو نیولي او تر نظارت لاندې دي.

هغه زیاته کړې: «موږ د شپږو تنو ترکي استادانو په اړه چې اوس په بې برخلیکه حال کې دي، د بهرنیو چارو وزارت او د جمهوري ریاست د هدایت په انتظار یو. دا کسان اوس مصؤن دي او د پولیسو تر نظارت لاندې دي.»

بلخوا سره له دې چې د بلخ سیمه ییزه اداره د دغو شپږو ترکي وګړو د استرداد او ازادولو په اړه د مرکزي حکومت د پرېکړې انتظار کوي، خو د بهرنیو چارو وزارت ویاند صبغت‌الله احمدي ازادي راډیو ته ویلي، چې د دغو کسانو دوسیو ته رسېدنه د عدلي او قضایي ارګانونو کار دی.

## د وینزویلا د ترینګلي حالت په دوام؛

# اووه اروپايي هېوادونه ګوایدو د نوي ولسمشر په توګه په رسمیت پېژني




اووه اروپايي هېوادونه جرمني، برېتانیا، فرانسه، بلجیم، هالنډ، هسپانیه او پرتګال غواړي چې د وینزویلا د اپوزیسیون مشر، خوان ګوایدو د دغه هېواد د نوي ولسمشر په توګه په رسمیت وپېژني.

دغو هېوادونو له ولسمشر نیکولاس مادورو غوښتي وو چې د رواني فبرورۍ تر درېیمې یعنې پرون پورې نوې ټاکنې اعلان کړي، کنه د ګوایدو په مشرۍ حکومت به په رسمیت وپېژني.

خو مادورو د دوی غوښتنه رد کړې ده او دغه هېوادونه یې سپین سترګي او ګستاخ بللي دي.

مادورو د وینزویلا په پلازمېنه کاراکاس کې د خپلو پلویانو یوې غونډې ته ویلي چې دی د وینزویلا رښتینی ولسمشر دی.

د متحده ایالتونو، کاناډا، برازیل، کولمبیا او ارجنټاین په ګډون، د لاتیني امریکا ځینو مهمو هېوادونو مخکې د مادورو له مخالفته، له خوان ګوایدو څخه خپل ملاتړ اعلان کړی دی.

ځینو نورو هېوادونو بیا لکه روسیې چې له ولسمشر مادورو سره یې پخوا تر دې هم نږدې اړیکې لرلې، د ولسمشر په توګه د ګوایدو د اعلان مخالفت کړی دی.

مادورو په خپله وینا کې چې ورمه ورځ یې د خپلو پلویانو یوې غونډې ته کوله، په ښکاره د روسیې له ملاتړه مننه کړې او ویلي یې دي چې د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین په هره برخه کې ده ته د ملاتړ ډاډ ورکړی دی.

له بلې خوا واشنګټن د وینزویلا پر پوځ غږ کړی، چې د ګوایدو ملاتړ وکړي. په ورته وخت کې په یوه تازه اقدام کې د وینزویلا د هوایي ځواکونو یوه مهم قوماندان تورن جنرال فرانسسکو یانیز ویلي، چې د هېواد د نوي ولسمشر په توګه د ګوایدو ملاتړ کوي.

۳۵ کلن خوان ګوایدو نږدې یوولس ورځې وړاندې په داسې حال کې ځان د وینزویلا د نوي ولسمشر په توګه اعلان کړی، چې لسګونو زرو کسانو د ټول هېواد په کڅه د مادورو پرضد لاریونونه پیل کړل، ځکه چې مادورو د ۲۰۱۸ ز کال د مې میاشتې په ټاکنو کې تر بریا وروسته، په تېرې جنورۍ میاشت کې د دویمې دورې لپاره لوړه وکړه، چې د دغه هېواد د اپوزیسیون له خوا په ټاکنو کې پر درغلۍ تورن شوی دی. د مادورو پرضد د اعتراضونو په لړ کې، تېره اونۍ ۳۵ کسان ووژل شول او په لسګونو نور ټپیان شول.

مادورو چې په ۲۰۱۳ ز کال کې د مخکیني ولسمشر هوګو چاویز له مړینې وروسته ولسمشر شو، له بشري حقونو د سرغړونو او د ناسمو اقتصادي پالیسیو له کبله په هېواد کې دننه او بهر له سختو نیوکو سره مخ دی.

## د کتــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډیویډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### څلورم څپرکی
### لوی فکر به څنګه کوو؟




ما هغه وکړه څو سړی پوه کړم چې دا خواړه خو ما یوازې د ټیټې بیې لپاره ټاکلي وو، که مې نهه څلوېښت ورکولای، بل څه به مې خوړلي وو.
هغه یوازې همدا یوه خبره کوله چې ته باید نهه څلوېښت سېنټه ورکړې. زه هم مجبور شوم، نهه څلوېښت سېنټه مې ورکړل، له هغه ځایه راووتم، خو قسم مې وکړ چې بیا به دلته ډوډۍ نه خورم. زه په کال کې دوه نیم سوه ډالر په ډوډۍ لګوم، خو قسم مې کړی چې د دې هوټل خاوند ته به رانه یو سېنټ هم لاړ نه شي.)
دا د انسانانو د تنګ نظرۍ یوه بېلګه ده. په دخل ناست سړي یوازې لس سېنټه لیدل، خو د کال دوه نیم سوه ډالر یې نه لیدل.
۳) د ګوجر کیسه
زه حیران یم چې ځینې وخت خلکو ته بالقوه عوامل بیخي نه ښکاري. څو کاله مخکې یو ګوجر (شیدې پلورونکی) کور ته راغی، ما ورته وویل چې ما خو له بل چا سره د لبنیاتو خبره کړې او ترې خوښ یم، ته داسې وکړه چې د دې ګاونډیانو ور وټکوه او خبرې ورسره وکړه.
هغه راته وویل: زه به له هغې ښځې سره خبره وکړم، خو هغوی دوه ورځو کې ایله یو بوتل شیدې اخلي او ماته دا واره نه کوي چې د یو بوتل شیدو لپاره به دلته ځم راځم.
ما ورته وویل: (ګوره زه دا منم چې اوس به درته واره نه کوي، خو تا چې ورسره خبرې کولې، پام دې نشو چې تر میاشت دوو به د دوی د شیدو لګښت زیات شي؟ نوي ماشومان چې راځي ستاسې تلپاتې پیرودونکي به شي.)
ځوان هلک یوه شېبه زما سترګو ته ځیر شو، ویې ویل: (عجیبه ده، ته دومره په خیال کې اوسېږې؟)
نن هماغه د یوه بوتل والا کورنۍ په ورځ کې اوه بوتله شیدې اخلي. د دې کورنۍ لومړی ماشوم یو هلک و، اوس دوه ورونه او یوه خور لري او زه خبر شوی یم چې په دې ورځو کې به ورکره بل ماشوم هم سترګې وغړوي.
نو ولې دومره لنډپاري شو؟ یوازې نن کې به نه ورکېږو، سبا ته به هم ګورو.
که د ښوونځي استاد احمد ته په نننۍ سترګه وګوري چې وران، شوخ او ټنبل ماشوم دی، نو دا به په پرمختګ کې هېڅ مرسته و نه کړي، خو که چېرې د احمد سبا ورځې او راتلونکي ته وګوري او داسې ماشوم ورته ښکاره شي چې سبا به وي، نو بیا د خپل ویستي زیار ثمره کتلای شي.
٤) ستاسې ارزښت څه شی ټاکي؟
څو ورځې وړاندې مې یوه ښوونیزه جلسه درلوده، له جلسې وروسته یو ځوان هلک څنګ ته راغی، هیله یې وکړه چې څو دقیقې خبرې ورسره وکړم. دا ځوان زه له ماشومتوبه پېژنم، ماشومتوب یې په محرومیت کې تېر کړی و، ځوانۍ کې پرې د ستونزو لوی پېټي بار و، خو زه پوهېدم چې په زیار او جدیت یې ځان راتلونکو بریاوو ته چمتو کاوه.
د چای څښلو تر څنګ مې ډېر زر د هغه زلمي ستونزه ور حل کړه او بحث دې ځای ته را ورسېد: دا کوم خلک چې لږې بدني وړتیاوې لري، دوی به راتلونکی څنګه ګوري؟ هغه دا پوښتنه ډېره ښه او روښانه ځواب کړه:
(بانک کې تر دوو سوو ډالرو زیات نه لرم، عادي مالي مامور یم، معاش مې چندانې نه دی او ډېر مسئولیتونه هم نه ایجابوي. موټر مې زوړ دی او له مېرمن سره مې د زړې ودانۍ په دویم پوړ کې اوسېږم. استاده! زه به ډېر شیان نه لرم او لا به مې تراوسه نه وي ترلاسه کړي، خو دا شیان باید زما د پرمختګ مخه ډب نه کړي.)
د زلمي خبرې لږې ګونګې وې، په دې خاطر مې ترې وضاحت وغوښت، هغه وویل: (کیسه دا ده چې زیاتره وخت خلک تحلیلوم، ګورم چې زیاتره خلک ځینې شیان نه لري، خو دې خلکو ځان په همدې حالت کې قید کړی وي، دوی ته یوازې خپل اوسنی بد حال ښکاري، راتلونکي ته نه ګوري.
زما ګاونډی یې ښه بېلګه ده، ټوله ورځ زړه خوري چې معاش مې لږ دی، فرصتونه رانه نورو خلکو ته ځي، ډاکټرانو ته ډېر ځم.... لنډه دا چې ابۍ ټوله بې ده او داسې فکر کوي چې ټوله ورځ به ګني په همدې غربت او بد حالت کې پروت وي. داسې لګیا وي، ته وا چا په شین زور د همدې کور کې بندي کړی دی.)
ځوان د زړه خبرې کولې، ښایسته شېبه غلی شو، بیا یې خبره وغځوله:
(که یوازې همدې تنګسیو، پورونو، بې خرڅۍ، تنګ کور او درې وخته ناځیزې ډوډۍ ته وګورو، نو بې له نهیلۍ بله هېڅ چاره به مو نه وي. که ځان راته له اوسه هسې بې ګټې او بېکاره انسان ښکاره شو، نو ټول عمر به همداسې بې ګټې او بېکاره ګرځم، خو اوس مې نیت دی چې ځان اوسنی نه، بلکې راتلونکی انسان وګورم، ځان عادي مالي مامور نه، بلکې راتلونکی مدیر، رئیس او اجرائیوي رئیس وګورم، د تنګ او تیاره کور پر ځای د ښار په ښایسته سیمه کې لوی او روښانه کور ګورم ... ځان ته چې په دې سترګه وګورم، نو د سترتوب او واکمنۍ یو احساس را کې پیدا شي او دا مې ډېر ځله تجربه کړې ده.)
دا ګني ځان ته د ارزښت ورکولو ښه طریقه نه ده؟ دا ځوان د یوه روښانه او بریالي راتلونکي ژوند پر لاره روان دی. دی د برې پر دې اصل پوه شوی دی چې: (مهمه دا نه ده چې څوک څه لري، مهمه دا ده چې څوک څه غواړي؟)
دوام لري...

# فیجي

حشمت الله نوري



فیجي په جنوبي ارام سمندر کې د ختیځو طول البلدونو د ۱۷۸ او ۱۷۷ درجو او د جنوبي عرض البلدونو د ۱٦ او ۱۹ درجو په منځ کې موقعیت لري. پراخوالی یې ۷۱۰۰ کیلو متره مربع دی او له دې پلوه د نړۍ ۱٦۷م لوی هېواد دی.
دغه هېواد له څلورو خواوو څخه د ارام سمندر اوبو کلابند کړی، خو په لرې واټن کې شمال ته یې فرانسه، جنوب ته یې نوی زیلنډ، ختیځ ته یې تونګا او لوېدیځ ته یې کالیډونیا او استرالیا موقعیت لري.
دغه هېواد د استوا کرښې ته د نږدېوالي له کبله توده او د ارام سمندر له اوبو سره د ګاونډیتوب له امله لنده سمندري هوا او ډېر اورښت لري.
فیجي له ۳۳۲ لویو او کوچنیو ټاپوګانو څخه جوړ شوی دی. دا د نړۍ تر ټولو لوی ټاپوګان دي چې د غرنیو اورغورځوونکو د فعالیت له امله جوړ شوي دي. پلازمېنه یې د سوا ښار دی، نفوس یې څه باندې ۹ میلیونو کسانو ته رسېږي چې په هر کیلومتر مربع ساحه کې یې۴۷ تنه ژوند کوي.
٦۰ سلنه وګړي یې په ښارونو کې مېشت دي او پاتې ۴۰ سلنه نور یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول ژوند کې د دریو ماشومانو د درلودو اجازه لري. ۵۸ سلنه وګړي یې هندیان، ۳۸ سلنه یې روتومان او پاتې نور یې له بېلابېلو نژادونو دي. دغه راز ۵۷ سلنه وګړي یې پروټسټانټ، ۱۰ سلنه یې رومن کاتولیکان، ۳۰ سلنه یې هندوان او پاتې نور یې له بېلابېلو نژادونو څخه دي. انګرېزي، فیجي او هندي یې رسمي ژبې دي، خو لیکدود یې لاتیني دی.
فیجي د اداري وېش له پلوه په ۴ برخو او یوه ترلې سیمه وېشل شوی دی. لاوتوکا، ناندی سوا، ناوسوري او لامباسا یې لوی او ډېر نفوس لرونکي ښارونه دي.
د دغه هېواد اساسي قانون په ۱۹۷۰ ز کال کې نافذ شوی دی. دغه قانون یو ځلې د ۱۹۸۷ ز کال د اکتوبر په لومړۍ او بیا د ۱۹۹۷ ز کال د جولای په ۲۵مه ځنډول شوی دی.
د دغه هېواد د قانون له مخې، ولسمشر د مشرانو جرګې له خوا د ۵ کلونو لپاره ټاکل کېږي، خو له ۲۰۰٦ ز کال راپدېخوا د جرګې دا پرېکړه ځنډول شوې ده. د دغه هېواد د لومړي وزیر ټاکنه د ولسمشر دنده ده. د کابینې وزیران د ولسي جرګې د غړو له منځ څخه د لومړي وزیر له خوا ټاکل کېږي چې ولسي جرګې ته مسوول دي. د فیجي پارلمان دوې جرګې لري. لومړی د مشرانو جرګه چې ۳۲ غړي لري. ۱۴ غړي یې د ولسمشر له خوا د مشرانو جرګې په خوښه، ۹ یې د مخالفو ګوندونو د مشرانو له خوا او پاتې ۸ نور یې د لومړي وزیر په وړاندیز د ولسمشر له خوا او یو د روتوما د سیمې د جرګې له خوا ټاکل کېږي. دویمه ولسي جرګه یې ۷۱ غړي لري چې ۲۳ تنه یې د فیجیانو، ۱۹ یې د هندیانو، ۳ یې د نورو نژادي ډلو، یو د روتوما د سیمې د خلکو او ۲۵ د خپلواکو کسانو لپاره د فیجي د ولسي جرګې او مشرانو جرګې له غړیو د ۵ کلونو لپاره ټاکل کېږي.
د دغه هېواد حقوقي نظام د انګلستان د حقوقي سیسټم له مخې جوړ شوی دی. ستره محکمه د دغه هېواد تر ټولو لوړ قضایي ارګان دی. د فیجي د اساسي قانون له مخې د دغه هېواد قضایه قوه پوره خپلواکه ده چې مشر یا قاضي القضات او اته مرستیالان یې د ولسمشر له خوا د لومړي وزیر په سلا ټاکل کېږي.
د فیجي کارګر ګوند، د فیجي سیاسي ګوند، د فیجي ولسواک ګوند، د کارګرانو د یووالي ګوند، د خپلواکۍ او عدالت ګوند او د ملي یووالي ګوند د دغه هېواد له لویو او مخکښو ګوندونو څخه دي.
دغه هېواد د ۱۹۷۰ ز کال د اکتوبر پر ۱۰مه له انګلستان څخه خپلواکي واخیسته، نو له همدې کبله د اکتوبر ۱۰مه هر کال په دغه هېواد کې د خپلواکۍ د ورځې په نوم نمانځل کېږي.
دغه راز فیجي په ۱۹۷۰ز کال کې د ډېرو نړیوالو ټولنو ترڅنګ، د ملګرو ملتونو غړیتوب هم ترلاسه کړ.
دغه هېواد د ځنګلونو، کانونو او کبانو د لرلو له امله، د ارام سمندر په ټاپوګانو کې ډېر پرمختللی اقتصاد لري. د بورې صادرات او د سیلانیانو ورځ پر ورځ پیاوړی کېدونکی صنعت او په بهر کې د دغه هېواد د کارګرو ځوانانو عواید، دغه هېواد ته پرېمانه بهرنۍ اسعار راوړي. بوره د فیجي د ټول صنعتي تولید درېیمه برخه جوړوي. دغه هېواد ته هر کال له ۴۰۰ تر ۵۰۰ زرو بهرني سیلانیان ورځي او هلته د الوتکو د ټکټونو، هوټلونو، ټکسي ګانو، ډوډۍ، تفرېح او سوغاتونو لپاره پرېمانه پیسې لګوي.
د دغه هېواد اقتصادي پرمختګ په نړۍ کې د بورې له بیو سره تړاو لري. اوس اوس اروپایي ټولنې ته د فیجي صادرات ځانګړی امتیاز لري، خو که دا ټولنه په خپلو هېوادونو کې د بورې د بیې سبسایډۍ لرې کړي، د فیجي اقتصاد ته به ځکه زیان ورسېږي چې بوره د فیجي د صنایعو په سکټور کې ۴۰ سلنه ونډه لري.
په دغه هېواد کې د ۲۰۰٦ ز کال له کودتا وروسته، دغه هېواد ته د ورتلونکو سیلانیانو په شمېر کې کموالی راغلی دی.
د فیجي اقتصاد له اوږدې مودې راهیسې له ډېرو ستونزو سره مخ دی چې له ډلې یې د کورنیو او بهرنیو پانګوالو لږ پانګونه او کار د ځمکو د مالکیت غیر یقیني حالت، د بودجې د مدیریت په کار کې د حکومت کمزورتیا او د بهرنیو مرستو درېدل یا کمېدل یادولی شو. په تېرو لسو کلونو کې په کویټ او عراق کې د فیجي د ځوان کارګرانو عواید د جګړو له امله ډېر کم شول، خو له دې سره سره، د فیجي اقتصاد اوسمهال ښه لور ته روان دی.
د دغه هېواد د ناخالص کورني تولید کچه ۴۰۵۰ میلیاردو ډالرو او د سړي سرکلني عاید کچه یې بیا ۵۴۱۱ ډالره اټکل شوې ده. دغه راز د دغه هېواد ۱۵ سلنه کورنۍ د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي.
توریزم، بوره، جامې، ناریال، طلا، نقره، چارتراش لرګي او داسې نور کاني توکي د دغه هېواد په صنعت کې عمده رول لري.
د فیجي ۱۵ سلنه ځمکه د کرنې وړ ده. د دغه هېواد ۱۵ سلنه خاوره څړځایونو او پاتې نوره ځنګلونو، غرونو، غونډیو، سیندونو، ښارونو او د استوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د دغه هېواد ۷۵ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او ۱۱ سلنه ناخالص کورني تولیدات یې هم له همدغه سکټور څخه لاسته راځي.
لرګي، تنباکو، ګنې، قهوه، سونډ، وریجې، کچالو، مېوې، سابه، غوښه، هګۍ، لبنیات او وابښه د دغه هېواد د کرنې او څارویو مهم محصولات بلل کېږي.
د فیجي دولت له ۱۹٦۰ ز کال راپدېخوا خپل هېواد ته د بهرنیو سیلانیانو د بللو لپاره ډېر کار کړی دی. دوی د فیجي په ښکلو سیمو کې ډېر ښکلي باغونه او هوټلونه جوړ کړي چې بهرنیان په ارزانه بیه مني. د جاپان، امریکا، استرالیا او نوي زیلنډ د الوتکو ځینې غټ شرکتونه فیجي ته د سیلانیانو له وړلو راوړلو سره مرسته کوي، چې هر کال په منځنۍ توګه ۴۰۰ زره بهرني سیلانیان دغه هېواد ته سفر کوي.
د دغه هېواد د صادراتو ټوله بیه ٦۵۰ میلیون ډالره او د وارداتو ټوله بیه یې یو میلیارد ډالرو ته رسېږي. امریکا، استرالیا، جاپان، چین او تونګا د دغه هېواد لوی سوداګریز شریکان دي.
دغه راز فیجي ٦۰۰ د اورګاډي پټلۍ او ۳۰ هوایي ډګرونه لري چې ۸ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. د ټلیفون کوډ نمبر یې ۰۰٦۷۹ او د انټرنېټ کوډ نمبر یې اېف جې دی چې ۲ لکه وګړي یې انټرنېټ ته لاسرسی لري.
د دغه هېواد ټلوېزیون د هېواد د اطلاعاتي سوداګریز شرکت درې شبکې لري. لومړۍ یې وړیا او دولتي ده، خو دویمه او درېیمه یې په پیسو کتل کېږي.
په فیجي کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ۹۸ سلنه خلک، نارینه ۹۷ سلنه او ښځې ۹۵ سلنه په لیک او لوست پوهېږي او زده کړې په دغه هېواد کې له ٦ تر ۱۴ کلنو ماشومانو او تنکیوځوانانو لپاره جبري دي.
مورخین لیکي چې د میلانیزي او پولي نیزي د نژاد ځینو خلکو نږدې ۳۰۰۰ کاله پخوا د فیجي په ټاپوګانو کې ژوند کاوه. پولي نیزیان لومړی دې سیمې ته راغلي وو، له دوی څخه ۱۵۰۰ کاله وروسته ملانیزیان هم دغو ټاپوګانو ته ورسېدل. په هغو کلونو کې د فیجي اوسني ځیني ټاپوګان په ټول ارام سمندر کې د ژوند او فرهنګ د پرمختګ نښې بلل کېږي.
ابیل تاسمان هغه لومړني اروپایان دي چې فیجي ته تللي دي او همدارنګه د انګلستان کپتان جمیزکوک د فیجي د واتو په ټاپوکې پلی شوی دی. مخکې له دې چې د انګلستان مامورین فیجي ته ورسېږي، د دغو ټاپوګانو مشر سلطان له امریکا څخه وغوښتل چې د دوی سیمه یا هېواد دې په ځان پورې وتړي چې دغه وړاندیز د فیجي د نورو ټاپوګانو د مشرانو له کلک غبرګون او مخالفت سره مخ شو او په هېواد کې کورنۍ جګړې پیل شوې.
په ۱۹۷۰ ز کال کې د فیجي پر اساسي قانون نوې کتنه وشوه. دغه قانون د فیجي بشپړې خپلواکۍ ته لار پرانیستله. د همدغه کال د اکتوبر پر ۱۰ مه فیجي د ګډو ګټو لرونکو هېوادونو د جرګې غړی شو. د قانون جوړولو ټولنه پر ولسي جرګه بدله شوه، مشرانو جرګه منځته راغله او کمیسس مارا د نوي دولت د لومړي وزیر په توګه د وفادارۍ لوړه وکړه.
د افغانستان د بهرنیوچارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو په کتاب کې د فیجي نوم نشته، نو له همدې کبله دا دواړه هېوادونه په خپلو کې هېڅ راز اړیکې نه لري.
له افغانستانه تر فیجي پورې د هوا له لارې فاصله ۱۲۹۴٦ کیلومترو ته رسېږي. دغه راز د کابل او سوا ښارونو ترمنځ د وخت توپیر هم اته نیم ساعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٤,۸۰ |
| € | ۸۵,٦۰ |
| Rp. | ۵۳٦ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹۷,۳۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 19:15 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# ګرجستان او په اړه يې په زړه پورې معلومات

حمیدالله حمیدي

ګرجستان  سره له دې چې د اسیا او اروپا د تقاطع په ټکي کې پروت دی؛ خو اداب او رواجونه یې له غربي نړۍ سره ډېر زیات توپیر کوي. دغه هېواد د اسیا په جنوب لوېدیځ کې د ترکیې او روسیې ترمنځ پروت دی. دا چې دغه هېواد تورې بهیرې ته نږدې دی، نو هوا یې یو څه ګرمه او مدیترانې اقلیم لري. ګرجستان د فرهنګي او تاریخي قدامت له اړخه له ټولې نړۍ سره توپیر لري. ګرجستانیان له خلکو سره ډېره ښه توده راشه- درشه کوي. په دې لیکنه کې مو یې ځینو رواجونو ته کتنه کړې ده.

**۱- په ګرجستان کې مېلمه پالنه**

مېلمه پالنه د ګرجستان د خلکو په خټه کې نغښتې ده. ان داسې چې مېلمه ته ښځې د یوه ډار په سترګه ګوري، چې ګواکې که یې ښوک خدمت ونه کړي، خطر به ورته پېښ شي. که ګرجستان ته لاړئ، نو هرو مرو د یوه ګرجستاني مېلمانه شئ. دوی کټ مټ د افغانانو په څېر عادتونه لري، که مو له کوره بېرون هم مېلمه کړي، نو په هېڅ صورت اجازه نه درکوي چې له خپل جېبه پیسې خرڅ کړئ. ان که تاسو د پیسو په اړه خبره وکړئ، د دوی د خپګان او شرم لامل کېږي. که یې در څخه پوښتنه وکړه چې د ګرجستان له سفره مو خوند واخیست که نه؟ نو مثبت ځواب ورکړئ؛ ځکه دوی په دې خبره د خوښۍ احساس کوي. که مو ځواب منفي وي، داسې فکر کوي لکه، زموږ له کوره چې مېلمه خپه ولاړ شي.

**۲- سلسله مراتب**

په ګرجستان کې سلسله مراتب، عمر او موقف ته ډېر ارزښت ورکول کېږي. مشرانو ته پکې تر هر څه ډېر احترام کېږي. کله چې له یو بل سره روغبړ کوي، نو لومړی مشران ځان معرفي کوي. څومره چې پکې عمر لوړېږي، په هماغه کچه یې پرېکړو ته درناوی هم کېږي.

**۳- روغبړ**

کله چې په ګرجستان کې د لومړي ځل لپاره له یو چا سره ګورئ، نو لاس به ورکوئ او احترام به یې کوئ. که له همدغه کس سره مو مخکې لیدلي وي، نو بیا کولی شی مخ ور سره وجنګوئ. په ګرجستان کې رواج دی چې یوازې له عمر څخه کم کسان په خپل نوم یادېږي. که یې عمر لوړ وي، نو له نامه سره یې د ښاغلي کلمه چې د دوی په ژبه ورته (BATONO) او اغلې ته بیا (Kalbatoni) وایي، کارول کېږي.

**۴- د ډوډۍ خوړلو اداب**

په ګرجستان کې د ډوډۍ خوړلو رواج دومره سخت نه دی. دوی دې ناستې ته د خوښۍ د یوه کوچني مجلس په سترګه ګوري او خوند ترې اخلي. دا چې د ګرجستان خلک ډېر مېلمه پاله دي، نو هڅه کوي چې مېلمه ورنه خپه نه شي او دا یو څو شیبې په خورا خوښۍ سره تېرې کړي. بیا هم که په دې برخه کې له ستونزې سره مخ وی، کولی شی نورو ته وګورئ او یا ترې په ارامۍ او ډاډه زړه پوښتنه وکړئ. د ډوډۍ پر وخت مو باید څنګلې په مېزه تکیه نه کړئ او هڅه مو باید دا وي چې ډوډۍ په ښي لاس وخورئ. د ګرجستان خلک هڅه کوي چې ډوډۍ په خوښۍ وخوري، تاسو هم د دې لپاره چې کوربانه مو خوشاله کړي وي، نو د ټولو خوړو خوند وڅکئ.

**۵- سنتي جامې**

د ګرجستان سنتي جامې د چوخا(chokha) په نوم یادېږي چې له نهمې پېړۍ بیا تر ۱۹۲۰ ز کال پورې ور څخه ډېره استفاده کېده، خو اوس یوازې دغه څه د دوی لپاره د یوه ملي فرهنګ په توګه پاتې شوي دي. نارینه یې هڅه کوي چې د رسمي ناستو پر وخت دغه جامې واغوندي. دغه جامې بېلابېلې بڼې لري چې بیا د یوه کس موقف ته په کتو توپیر کوي. په دغو جامو کې یو پشمي کوټ، یوه ببره خولۍ، یو اوږد نری ځادر او یو لوی ډانګ شامل دي.

**د ګرجستان هېواد مشهوره ډالۍ څه ده؟**

په سفر کې د کورنۍ غړو، ملګرو او دوستانو ته د ډالۍ اخیستل په زړه پورې او خوندور کار دی. هر هېواد ځانګړې ډالۍ لري. که ګرجستان ته لاړئ، نو د مشهورې ډالۍ په اړه یې سر له اوسه معلومات ترلاسه کړئ. د دغه هېواد ډالۍ تر ډېره زېورات او لاسي صنایع دي چې د نورو هېوادونو په پرتله ارزانه هم دي. د ګرجستان په پلازمېنه تلفیس کې ډېر داسې سوداګریز مرکزونه شته چې دغه ډالۍ پکې پلورل کېږي. په دې لیکنه کې مو درته د دغه هېواد ځینې ډالۍ معرفي کړې دي:

**۱- میناتوري شوي جواهرات**

میناتوري هغه هنر دی چې د ولې شوې شیشې او فلزاتو لکه نقرې، مس او طلا په وسیله شکل پیدا کوي. د میناتورۍ تخنیک له اتمې پېړۍ راهیسې په ګرجستان کې دود شوی دی. له بده مرغه په دغه هېواد کې دا هنر له پنځلسمې پېړۍ را وروسته له منځه ولاړ، خو په شلمه پېړۍ کې نویو صنعتکارانو هڅه وکړه چې یو ځل بیا یې را ژوندی کړي او نوې بڼه هم ورکړي. تاسو هم که ګرجستان ته په سفر لاړئ، نو له دې ډالۍ څخه یې هرو مرو وپېرئ.

**۲- خینکالي جرابې**

دا جرابې د ګرجستان له مشهورو لاسي صنایعو څخه شمېرل کېږي او د دغه هېواد مهمه ډالۍ ده. الټر ساکس بیا د جرابو بل هغه ډول دی چې پر جرابو باندې ځانګړی نقش رسموي. جالبه دا ده چې که له دریو جوړو زیاتې واخلئ، بیا نو ځانګړی تخفیف درکوي.

**۳- سنتي ابي سرمېزي**

د ګرجستان سنتي سرمېزي چې ډول ډول نقاشۍ پکې شوې وي، ډېرې مشهورې دي. کابو یوه پېړۍ کېږي چې دغه څه په ګرجستان کې د یوه فرهنګ په توګه پیل شوي دي او اوس  پکې لا نوښت شوی دی. په دغو سرمېزیو کې تر ډېره له نیلي رنګ څخه کار اخیستل کېږي چې بیا د ډول ډول شکلونو او رسامۍ لپاره پکې نور رنګونه هم کارول کېږي. دغه رنګونه ګرجستانۍ سرمېزۍ له روسي او اروپایي هغو څخه بېلوي. د ګرجستان دغه سوغات هم د یو څه وخت لپاره هېر شوی و، خو یو څه موده کېږي چې بیا یې رنګ راوړی دی.

**۴- په پخواني ډول جوړ شوي جواهرات**

په پخوانیو ډولونو جوړ شوي جواهرات د ګرجستان په ملي موزیم کې پلورل کېږي. د دغو جواهرات مخینه ان دریېمې پېړۍ ته ورګرځي. سیلانیان کولی شي د دې ډول جواهراتو ګوتمۍ، غاړه کۍ، لاس بند او نور په همدغه موزیم کې پیدا کړي او د خپلې کورنۍ غړو یا ملګرو ته یې ډالۍ کړي.

**۵- سرامیکي لوښي**

که له سرامیکي لوښو او نورو لوازمو سره مینه لرئ، کولی شئ دا ډول (White Studio) یې په ګرجستان کې وپېرئ. د دغه ډول لوښو مختلف ډولونه په ګرجستان کې پیدا کېږي چې د دغه هېواد سنتي ګلان او شکلونه پرې وهل شوي وي.

## یونیسف: څلور میلیونه افغان ماشومان مرستو ته اړتیا لري

د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ صندوق یا یونیسف له نړیوالې ټولنې د څلور میلیون افغان ماشومانو لپاره د ۵۰ میلیون ډالرو مرستې غوښتنه کړې ده. یونیسف ویلي، په دغو ماشومانو کې شاوخوا ۵۰۰ زره یې بېړنیو مرستو ته اړتیا لري.

د یونیسف چارواکو په هرات کې په دې تړاو جوړې شوې غونډې ته ویلي، تر ډېره د افغانستان په لوېدیځ کې دغه ماشومان د جګړې د دوام، ناامنیو او وچکالۍ له کبله له جدي ستونزو سره مخ دي.

په پام کې ده چې له نړیوالې ټولنې له غوښتل شویو پیسو به نږدې ۲٦ میلیون



ډالر د ماشومانو پر خوارځواکۍ، اووه میلیونه د ښناک د پاکو اوبو چمتو کولو، اووه میلیونه پر روزنې، پنځه میلیونه د ماشومانو پر ساتنې او دوه نیم میلیونه ډالر د هغوی پر روغتیایي خدمتونو ولګول شي.

په کابل کې د یونیسف ویاند فریدون ارین بي بي سي ته ویلي، دا مرستې به تر ډېره په لوېدیځو ولایتونو لکه هرات، غور او بادغیس کې پر ماشومانو ولګول شي.

د یونیسف د شمېرو له مخې، په یادو ولایتونو کې زرګونه کورنۍ د وچکالۍ او ناامنیو له کبله بې ځایه شوې دي.

یونیسف ویلي، تېر کال یې د یو میلیون افغان ماشومانو لپاره د ښناک پاکې اوبه چمتو کړې دي، ۱۳ میلیونو ماشومانو ته د ګوزڼ ضد واکسین ورکړل شوي دي او ښوونځي ته د یو میلیون ماشومانو لپاره د تللو زمینه هم برابره شوې ده.

له دې ټولو هڅو سره سره، د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ صندوق ویلي چې لا هم په افغانستان کې ماشومان له ناوړه وضعیت سره مخ دي او جدي مرستو ته اړتیا لري.


د یادونې ده چې د رسمي دولتي شمېرو له مخې، په ټول هېواد کې دا مهال د کورنیو د ناوړه اقتصادي وضعیت او بې وزلۍ له کبله، تر دوو میلیونو ډېر ماشومان پر کارونو بوخت دي.

## عامې روغتیا وزارت: تېر کال ۱۵ زره کسان د سرطاني ناروغیو له امله وژل شوي دي

عامې روغتیا وزارت په هېواد کې پر سرطاني ناروغیو په ځانګړي ډول، په ښځو کې د سینې د سرطانونو په ډېرېدو اندېښنه څرګنده کړې ده.

د دغه وزارت په خبره، په تېر ۲۰۱۸ ز کال کې له ۳۰ تر ۴۰ زرو پورې افغانان پر سرطان اخته شوي وو چې لږترلږه ۱۵ زرو یې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

د عامې روغتیا وزیر، فیروزالدین فیروز تېره ورځ د سرطان پر وړاندې د مبارزې نړیوالې ورځې نمانځغونډې ته ویلي، چې په هېواد کې د سرطاني ناروغیو په ځانګړي ډول، په ښځو کې د سینې د



سرطانونو له ډېرېدو اندېښمن دي.

نوموړي ویلي: «نه یوازې په افغانستان، بلکې د نړۍ په کچه په راتلونکو لسو کلونو کې د سرطاني ناروغیو له ډېرېدو اندېښنې ډېرې شوې او ممکن تر ۵۰ سلنې دا پېښې ډېرې شي، نو اړتیا ده چې موږ یې د مخنیوي لپاره پلانونه ولرو.

په تېر ۲۰۱۸ ز کال کې له ۳۰ تر ۴۰ زرو پورې کسان په سرطانونو اخته شوي او نږدې ۱۵ زرو یې خپل ژوند له لاسه ورکړی، په افغانستان کې یې پېښې مخ په ډېرېدو دي.»

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د انګلستان نېشنل مګزین خپرونې ویلي وو، چې په افغانستان کې ډېری ښځې تر جګړې وروسته د سینې د سرطان له امله مړې کېږي.

د عامې روغتیا وزارت د معلوماتو پر بنسټ، اوسمهال د سرطان د تشخیص او درملنې دوه مرکزونه د کابل په جمهوریت او استقلال روغتون کې فعالیت لري او تمه ده چې په راتلونکي کې د کابل په طبي پوهنتون کې هم یو مرکز جوړ شي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily








دوشنبه د ۱۳۹۷ د سلواغې ۱۵مه | د ۲۰۱۹ د فبروري څلورمه | دویم کال | ۳۲۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily



| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۵ | ۹ | ۱۱ | ۱۰ | ۱۸ |
| -۳ | -۲ | ٤ | ۲ | ۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۹ | لمر ختل ۰۷:۰۳ | ماسپښین ۱۲:۲٤ | مازیګر ۰٤:۰۷ | ماښام ۰۵:٤۵ | ماخوستن ۰۷:۱۰

## نړۍ




## غنی: صلحی که نقش نیروهای امنیتی و دفاعی ما در آن تضمین نباشد، پذیرفتنی نیست



محمد اشرف غنی، رئیس‌جمهور کشور در واکنش به گفته‌های شیرمحمد عباس ستانکزی، رئیس دفتر سیاسی طالبان در قطر مبنی بر منحل‌شدن ارتش افغانستان، گفته است که این نیروها پایه‌گذاری شده تا برای صدها نسل مبارزه کند.

این در حالی است که قبل از این شیرمحمد عباس ستانکزی گفته بود، در صورت بیرون شدن نیروهای امریکایی از افغانستان، اردو این کشور نیز ازبین خواهد رفت؛ چون به باور وی، این اردو را امریکا ساخته است.

رئیس‌جمهور غنی که در مراسم تقدیر از نیروهای ویژهٔ ارتش در ارگ سخن می‌زد، گفته است: «نیروهای امنیتی و دفاعی، نیروهای یک روزه، یک ساله و یک دهه نیستند؛ بلکه نیروهای هستند که برای صدها نسل مبارزه می‌کنند». این در حالی است که گفت‌وگوهای ایالات متحده و طالبان به مرحلهٔ حساسی رسیده است. زلمی خلیل‌زاد، نمایندهٔ ویژهٔ امریکا برای صلح افغانستان گفته است که در گفت‌وگوهای او با طالبان، روی خروج نیروهای امریکایی و مبارزه با تروریزم به پیشرفت هایی دست یافته اند.

همزمان با این، دونالد ترمپ، رئیس‌جمهور امریکا نیز گفته است که در صورت به موفقیت رسیدن گفت‌وگوهای صلح در افغانستان، نیروهای امریکایی افغانستان را ترک خواهند کرد.

اما رئیس‌جمهور غنی گفته است که صلحی که نقش نیروهای امنیتی افغانستان در آن نادیده گرفته شود، قابل پذیرش نیست.

او یک بار دیگر بر مبارزه با طالبان تأکید کرده و افزوده است که این گروه نباید فکر از هم پاشی اردو را درسر داشته باشند. وی افزده است: «آنانی که دیگران را به زور به مذاکرات می‌کشانند، در خصوص از هم‌پاشی شیران ما صحبت نمی‌کنند، اگر این‌قدر شهامت دارند، به جای انتحار و انفجار در میدان جنگ، زور آزمایی کنند».

**د افغانستان ختیځې سیمې د ویاړلو افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له لوري ساتل کېږي. افغان ځواکونو په ننګرهار او کونړ ولایتونو کې د پراخو عملیاتو په پایله کې ډېر ترهګر وژلي او نیولي دي. موږ په افغانستان کې د سراسري سولې تر ټینګېدو د افغان ځواکونو تر څنګ ولاړ یوو، هماغسې چې دوی په مېړانه د ګواښونو پر وړاندې درېدلي دي.**

**مناطق شرق افغانستان توسط نیروهای با افتخار ملی دفاعی و امنیتی افغان محافظت می شود. نیروهای افغان با راه اندازی عملیات بیشتر در ولایت های ننگرهار و کنر، تروریستان زیادی را بازداشت و به قتل رساندند. ما برای تامین صلح سراسری در افغانستان در کنار نیروهای افغان ایستاده ایم، همانطور که آنان شجاعانه در برابر تهدیدات ایستادگی می کنند.**



